# ساقی

ساقی د می لهٔ دورده می ډکی که پیاله
مطربه په رباب کی غړوه راته ناله
نیشوکی می ډوب که چی می هیرشی دیارغم
چي وانورم خبری داغیار په کشاله
ساغر می ډکوه سر په سر له میوناب
چی نور می نشی یاد دیار کلی او کاله
بریا می تر لاس نشو تشوم د می پیالي
نصیب د «مل» خولګی د شونډو نشو نواله
*** 2020-08-04 « کریفلد جرمنی»

# ریږدم

بی زړه نه لرم بل څه چي په مخه دی کیږدم
ځما هومره خوښیږي چي تا ووینمه ریږدم
ما ستا په شهلا سترګو کي د میني رمز لیدلي
په ناز چي راته ګوري په خولو کی خپل ډوبیږم
په مخه چي مي راشي بی اختیار هک وپک کیږم
د مینی له جذ بی نه دی ستا مخ کی ګونګیږم
روغبړ کی چي مي لاس ستا په لاس ولګیږی
د میني له شد ته «مل» بیواکه تخنیږم
**** 2020-08-07 «کریفلد جرمنی»